دوکتور صلاح الدين سعيدی - سعيد افغانی ۲۰۱۰/۰۲/۰۴م

# د عسکرخدمت اجباری کول د حل ليار نده!

## (دالجزيره د تلويزيون سره دښاغلی حامد کرزی د مرکی په اړه)

درنو وطنوالو او درنو لوستونکو!

ما د ويسا د ملی او خپلواکی ورځپانی د سه شنبی د ورځی په ګڼه کی (۳/۲/۲۰۱۰ م) د افغانستان د جمهوررئيس ښاغلی حامد کرزی د مرکی د دری متن مهم ټکی چه د الجزيره د تلويزيون سره يی تر سره کړی وه ولوستل. له دی کبله چه دامطالب د زمونږ د وطن او وطنوالو او دسولی د سرنوشت مسايل او مطالب دی نو مجبور شوم چه ددی مرکی په بعضی ياد شوو ټکو او مطالبو په هماغه توګه چه د محترم ح. کرزی په مرکه کې راغلی دی - خپل نظر او ليدلوری تاسی سره په ډير احترام شريک کړم.

د ليکنی عنوان دی چه: رئيس جمهوری حامد کرزی دريک مصاحبه اختصاصی با شبکه الجزيره : احتمال دارد دوره مکلفيت را اجباری کنيم.

په دی هکله د ويلو وړګنم هغه عبادت او خلق الله ته خدمت او چوپړ به ان شاء الله تعالی د الله تعالی دربار ته د منلو وړ وی چه په خپل زړه، رضا او رغبت، بی ريا د الله تعالی دربار ته وړاندی شی. داچه : واطيعوا الله و اطيعو الرسول واولامرمنکم – اطاعت وکړی د الله تعالی(ج) او درسول الله (ص)او د ولات امور يعنی حاکميت نه - او په دی شرعی نص کی تأکيد شوی په ( منکم ) يعنی هغه ولات امور چه له تاسی نه او دتاسی په واسطه قدرت ته رسيدلی – دا يو څه اوږد بحث دی. اما د پورتنی ملاحظی سره سم د دوره مکلفيت اجباری کول او يا اجباری عسکری او هغه ته تقدس ورکول به ګران کار وی.

په هر عمل کې نيت شرط او مهم دی. په قلبونو الله تعالی عالم دی. د پورتنيو ټکو په نظر کې نيولو سره په ښکاره ډول ځرګنديږی چه اجباری عسکری او د مکلفيت د دوری اجباری کولو ته مقدس رنګ ورکول ګران کار دی. راځی چه خلک به خپل رضاء پريږدو چه د عبادت ليار د الله تعالی د کتاب او نبوی سنتو سره مطابق غوره کړی.

که چيری د مکلفيت د دوری د اجباری کولو نظر د حکومتونو لپاره د اقتصادی لحاظه مهم وی او حکومتونه غواړی چه دولتی بوديجه به په ناروا لارو، په غير شفاف اقتصادی او غلط کادری سياست خرابوی او مصرفوی او خلک به داسی حاکميتونو ته اجباری کار او بيګار وکړی نو بيا هم د مکلفيت د دوری اجباری کونه خطاء ، غير عادلانه، تاريخ وهلی نسخه او د بين المللی قوانينو خلاف کار دی. خلص داچه دوی به حاکميت کوی او خلک به سربازی او حاکميت ته خدمت.

د نورو خبرو په څنګ هغه حکومتونه اوسياسی سيستمونه ښه سيستمونه او حاکميتونه دی چه ارزانه وی. هو عدلی او قضايی ارګانونه، قانون ګزاری مرجع او اجرائيه قوه په نورمالو شرايطو کې د ملت د ملا نه ډوډی خوری. بهتره او ضروری به وی چه ډوډی خواره لږ وی او د فنی او مسلکی پوهی په بنياد مشکلات کم کړی. د علمی او فنی او مدرنو حاکميت په عيارولو سره د دولت بوج او بار لږ او د ملت ملا ماته نه کړی.

ددی کار د کولو لپاره د اداری سيستم اصلاح، د اداری وسطی حلقی محدودول او يا يی لغوه کول، د اداری او حاکمو ادارو مختصرول، دولتی اداره خلکو ته نږدی کول(مثلا ولايتی اداری محدودول او صلاحيتونه يی ولسواليو او مرکز ته تقسيمول)، د مدرن تخنيک او انسانی لاس ته راوړنو نه ګټه اخيستل، د جرم او جنايت د لمنځه وړلو لپاره بنيادی وقايوی او معالجوی کار کول تر ځومصارف به پوليسو، محاکمو او زندانو کم شی. د دولتی ارګانو مدرن تعريف کول ترڅو خپل وظايف وپـــيـژنی او لکه د کمونيستی او سوسياليستی حاکميتونه غوندی په هر شی کې بی ځايه مداخله و نکړی. دا او داسی نور په لس ګونو نور تدابير دی چه د دولت مصارف کموی. په لس ګونو نور تدابير دی چه د وطن دفاع او امنيت کښی د خلکو ونډه لوړه کړای شی. نه د اجباری عسکری او يا هم دمکلفيت د دوری بيا اجباری کول. هماغسی مو چه وويل دا يو غلط ، تاريخ وهلی تجويز دی او د يوسلسله نړيوالی قوانين په خلاف تدبير هم دی.

مدرنه نړی او حکومتداری ددی واقعيت ايجاب کوی چه کاری، متخصصه، او مدرن مسلکی امنيتی ځواکونه جوړ کړای شی.

له بلی خوا دنيا داسی وړه شوی او يو په بل پوری اړ يو چه زمونږه نړی اوس د واړه کلی خاصيت لری. واقعيت خو دادی که د نړی يو هيواد خپله تولله اقتصادی بوديجه د خپل دفاع په لاره کې مصرفه کړی بيا به هم په ځانګړی توګه خپله دفاع و نشی کړای. په اوسنی نړی کې د نور نړيوالو تدابير سره سره بايد کلکتيفی او دسته جمعی دفاعی سيستمونو باندی کار وشی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

محترم حامد کرزی ددی سوال په ځواب کې چه: به چه علت ولسی جرگه به دو سوم اعضای کابینه پیشنهادی شما رای اعتماد نداد؟ داسی وايي:" چند علت وجود دارد. نخست آن که دموکراسی در افغانستان قدرتمند تر شده است. یکی از مهمترین وظایف پارلمان، قبول و یا رد وزیرانی است که رئیس جمهور پیشنهاد میدهد. علت دوم این است که در آغاز دوره ریاست جمهوری ام در پنج سال پیش من شخصا به نیابت از وزیران در ولسی جرگه حاضر شدم و در باره آنها سخنرانی کردم. در نتیجه بیست یا ۲۱ وزیر از ۲۵ وزیز پیشنهادی از پارلمان رای اعتماد گرفتند. اما این بار تصمیم گرفتم درین خصوص مداخله نکنم. شماری از نمایندگان پارلمان قبل از آن که اسامی وزیران پیشنهادی را به پارلمان ارسال کنم با من ملاقات کردند و من به آنها گفتم شما در قبول یا رد وزیران آزادی مطلق دارد".

ددی ځواب او مطالبو په هکله څو ملاحظې لرم: زه دغربي غیر تعریف شوی دموکراسی په اصطلاحی مانا دومره بنه نه پوهیږم. د اوسنی دیموکراسی لاندی داسی جنایات وشول چه بشریت د هغه به نوم شرمیږی. حق خبر خو داده چه دا دموکراسی تر اوسه داسی مؤثر او عملی میکانیزم او لیاری نه دی عیاری کړی چه د هغه په واسطه د بشری حقوقو او په نړی کې د نسبی عدالت ضامن شی. د تعجب خبره نده چه په جهان یوعده خلک دا دیموکراسی ردوی. دیموکراسی بدون د قانون د حاکمیت نه رده ده. د آزاد بازار اقتصاد د قانون د حاکمیت او د رقابت د موجودیت نه پرته داسیستم رد دی . په نړی کې هغه دیموکراسی چه سل کاله مخکی وه او نوری نړی د اصولو په اساسی رده کړی متأسفانه افغانستان او بعضی هیوادو ته اوس اوس رسیدلی ده.

د افغانستا ن اوسنی اساسی قانون ډیری خلاوی لری. د حاکمیت د دری ګونو قواو ترمنځ توازن د اجرائیه قوی په ګټه ددی اساسی قانون یوه اساسی او بنسټیز ستونزه ده. عدلی او قضایی چاری ویجاړی دی. زمونږ د ټاکنو په سیستم کی ډیر ستونزی شته. دا حالت په حاکمیت د غیر فنی او غیر مسلکی افرادو د تأثیر له مخ منځ ته راغلی. د افغانستان اوسنی پارلمان د ۳۰ کلن جنګ نه د خرابو قوانینو په بنسټ منځ ته راغلی. په پارلمان کی سیاسی پارټنر او مرجع نه شته چه سیاسی مقدماتی توافقات وکړی.

دا ویلی شم چه په مستقرو ټولنو کې سیاسی مقدماتی توافقات مخکې له دی نه چه تلویزیون صفحو ته و غورځی په پارلمانی کلوبونو اود وطن په سیاسی رهبری کې چه د استقرار سبب ګرځی صورت نیسی. اما زمونږ په وطن کې هم حاکم او هم ملت د وضعی نه شاکی دی. د کار هماهنګی د لوړ پوړو ادارو او دولتی ارګانو په منځ کې نشته. دا او داسی نور هغه عوامل دی چه زمونږ په وطن کې یی داسی وضعه رواستی او ددی ویجاړی وضعی د ادامی عوامل به کې نغښتی دی.

دا د خفګان ځای دی چه زمونږ د پارلمان غړی د محترم حامد کرزی نه د لیدو وروسته په خپلو صلاحیتونو پوه شول چه هغوی وزیرانو ته د رای ورکولو په وخت کې مطلقه آزادی دی. زه ګمان کوم چه هیڅوک مطلق آزاد نه دی او مونږ خوشحاله یو چه د قانون او اصولو په قیودو کې یو.

ضرورت دی چه د دموکراسی د انستیتوتونو د نهادینه کولو ، د هغوی د اتوریتی او اعتبار لوړلو لپاره کار وشی. دامنم چه د نوی کاندید شوو او پیشنهاد شوو وزیزانو ته د راه اعتماد ورکولو نه د مخه باید وزیران خپله کړنلاره پارلمان ته وړاندی کړی. دا یو بنه کار او پیشرفت ګڼل کیږی . اما اکثر پارلمانیان او ډیر ځلی پارلمان ته د وزیرانو د معلومات ورکولو او خپل پنځه کلن کاری پلان د وړاندی کولو په وخت کې پارلمان کی حاضر نه وه. نو بیا داسی وکیلان څنګه کولای شی د هغوی په هکله د ملت او وطن په ګټه تصمیم و نیولای شی او در اعتماد او یا عدم اعتماد رای ورکړی؟ آیا داسی خو نه ده چه دا قضا او تصمیم ورته بل څوک وایی او دیکته کوی. آیا دا خو د پیسو معامله نه ده؟ په صراحت ویلی شم په دی برخه کې لازم کاری و جوړونکی کار نه کیږی. دا د پارلمان حق نه وه او نه دی چه د حق العبد حق دی چاته و بښی، د پارلمان حق نه وه او نه دی چه د پارلمان غړی دی د پارلمان نه اخراج کړی، دا درسته خبر نه ده چه زمونږپارلمانیان دی داسی ضعیف وی چه په هغه بله دوره کې چون خپله محترم ح. کرزی استدلال کړی وه او دوزیرانو نه یی دفاع کړی وه نو وزیرانو ته د اعتماد رای ورکړل شوه او اوس بل څوک چه ګواکی ضعیف وه او یا هم هغه وخت آزادی نه وه او اوس وکیلانو ته محترم ح. کرزی دا آزادی ورکړه چه وکیلان مطلق آزادی لری او دوی هم د هغه نه استفاده وکړه. ضرورت دی د دیموکراتیکو لاس ته راوړنو شکل او محتوی عمیقه کړای شی.

محترم حامد کرزی د هغه سوال په ځواب کې چه : آیا طرح روشنی برای مبارزه با فساد در افغانستان دارید؟ داسی ویلی : ((ما طرحی به این منظور داریم. فساد بخشی از واقعیت های افغانستان است زیرا افغانستان کشوری است که بعد از سالها از بی ثباتی و ناآرامی و فقر و جنگ و دخالت بیگانگان خارج شده است. ما در حال پایه ریزی جامعه جدیدی هستیم و تلاش می کنیم این جامعه بهبودی خود را بازیابد. وجود فساد در افغانستان یک واقعیت است و ما باید با ان مبارزه کنیم و عملا همین کار را می کنیم. من هر روز دوسیه هایی را در رابطه با فساد به قضات ویژه رسیدگی به این دوسیه ها ارسال می کنم و متهمان در این دوسیه ها تبرئه یا محکوم می شوند)).


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه:** دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

دا خبره د ویلو ده چه د نوی دولت د جوړونی لپاره کافی وخت او تقریبا مناسب نړیوال امکاناتو نه ښه ګټه اوچته نه شوه. په غلط کادری سیاسی، غیر شفاف اقتصادی، او خرابو قوانینو نوی مدرن دولت نه شی جوړیدای. د وطن لمړی شخص او کلید افراد نباید په انفرادی کیسو او قضایاو بلکه په کلیدی مسایلو او د سیستم په جوړولو او فورمول جوړلو او ورکولو مصروفییت ولری. اداری فساد یواځی په ښی ارادی نشی له منځه تلای. د معافیت سیاسیت ته باید خاتمه ورکړای شی. د قانون د تطبیق لپاره باید سیاسی اراده وجود ولری. زه په دی باور یم په دوامداره توګه د عدلی او قضایی ارګانو دظرفیتونو او سطحی لوړلو په څنګ د کادری سیاست اصلاح اومدرنولو ته اړتیا ده. نوی نړی په زړو شعارو نه جوړیږی.
مونږ په دی باوری یو دا چه د بهرنی مرستو څخه د ۳۲ ملیاردو دالرو څخه حکومت صرف ۸ ملیارده تر لاسه کړی او صرف د همدی ۸ ملیاردو مسؤولیت اخیستل او پاتی د نړیوالو منابعو په سر اچول غیر دقیقه خبر ده. د افغانستان دولت باید خپل کارونه د کمک ورکونکو هیواد سره هماهنګ کړی وای. هغه پل (د پ په ضمه) او سړک چه په دی نامه غیر کوالیت جوړ شوی د نورم او ستندر خلاف دی باید د افغانستان حکومت تسلیم نه وای اخیستی او عاملین یی باید افشاء او نړیوالو ته وریپژندل شوی وای. داسی اشخاص باید عدلی او قضایی مراجعو ته د غیر ستندر او ټولنی ته د خطر په جرم او اختلاس محاکمه شوی وای.
د سالنګ د تونل د خلاصولو به قضیه کی په میلونهاو دالر مصرف شوی او حتی د خندا وړ ده چه دولت او هغه شرکت چه داکار یی اجراء کړی او مرسته کوونکی هیواد د قرار داد د موضوع په هکله توافق نلری. هغه قرار داد چه مضمون او محتوی د کار یی معلومه نه وی هغه قرار داد له سره پاسخ دی. په یقین ویلی شم چه د نورو تخلفاتو په څنګ کې ډیر ښه حق السکوت ورکړ شوی دی.
زه پوهیږم چه مال د بل او مصرف یی بل کوی. اما د ټکس او مالیه او نورم او ستندرد ادارو خپل کار نه دی کړي. عدلی او قضایی ارګانو متخلفو انجو ګان عدلی او قضایی مسؤولیت ته نه دی راکښلی او حتی د اداری اجراات یی په دی هکله نه دی کړی. زه د محترم داکتر رمضان بشر دوست د انجوګانو یکسره لغوه کولو سره هم مخالف وم اما دداسی بی مسؤولیتیو سره چه قانونی معافیت ګڼم سخت مخالف یم. زه څه چه قانون مخالف دی. دا خبر په څرکنده توګه د دولتی مقاماتو برخه او ونډه په فساد او اختلاس کې وینم. څرنګه چه مو وویل حق السکوت اخیستل حد اقل تخلف وینم. جرمی عمل د قانون سره سم نه کول د هغه عمل چه قانونا باید وشی او کول د هغه عمل چه قانونا باید ونشی. دلته دولتی مراجعو تخلف کړی چه خپل وظایف یی نه دی اجرا کړی.

افغانی حکومت څنګه کولای شی چه د قاتلانو او جنایت کارانو د محاکمی مطالبه وکړی چه خپل څنګ کې یی د جنګی اسیرانو د ډلیز قتل قاتلان څنګ ته ناست وی؟

هڅی چه ملکی تلفات کم شی، بهرنی زندانونه په افغانستان کې د افغانانو تر کنترول لاندی راوستل شی، یو انسانی غږ دی. داچه افغانان باید خپل سرنوشت په خپل لاس کې ونیسی او ددی دپاره عملی تدابیر ونیول شی مطلوب جهت دی. اما په ویلو او ښه نیت چه د کار د پیل لپاره ښه خبر ده – نه کیږی.
مونږ په دی باور یو چه د طالبانو او مخالفینو سره مذاکره او مفاهمه د هغوی د نسخو او تګ لارو د تائید او یا رد په مانا او یو بل ته د اصولو نه د تیریدو په مانا نه ده. بلکه توافق پردی خبری دی چه څنګه داسی زمینی برابر کړو چه د خپلو برنامو او تګ لارو د صحت مشروعیت د ملت نه تر لاسه کړو. دا توافق نه په پیسو او نه په چوکی ورکولو تر لاسه کیږی.
داچه د پاکستان دوکلن وروستی عملیات چه د زرهاو بی ګناه انسانانو د تباهی موجب شول کوم مؤثر اقدام نه بولو. د دقیق استخباراتی او با آدرسه کار په ځاي، د هوښیار او حاذق جراح د سکالپل (ظریف چاقو) په ځای د قصابی ساتور - ستایل مناسبه خبر نه ده .
داچه محترم ح. کرزی د نړی څخه غوښتی چه غرب دی افغان ملت ته احترام وکړی د قدر وړ او ضروری خبر ده. زمونږ ملت قربانی ورکړی او د نورو جګړی یی فیصله کړی او کوی یی. زمونږ زعامت باید افغانستان د هوښیاری او ښه تدبیرد نور د جنګ له میدانه خلاص کړی. دا زمونږ د ملت آرزو ده.

درنو لوستونکو دا هغه لنډی ملاحظی او نکات وه چه ما د هغه دری متن چه انشاء الله د اصل را مطابقت لری ستاسی مبارک حضور ته وړاندی کړلی. لار اوږه ده او ډیر جګی او جوری مخی ته دی. انشان الله چه افغان ولس به په سرلوړی ددی مشقاتو نه خلاصیږی هوساینی ته به رسیږی.
مونږ په دی باور یو چه داملت ان شاء الله به خپلو درنو او سپیڅلو آرمانونوته به ښه زعامت او نیک تفاهم او تدبر لار مومی او رسیږی .

و من الله التوفیق


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ